لوړو زده کړو وزارت

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه

حقوق او سیاسي علومو پوهنځی


سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه

# د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې

# ستراتیژیک پلان

۱۴۰۲-۱۴۰۶

لمریز کال


بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرست


د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د آمر پیغام! ..... 1

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې لپاره ستراتېژیک پلان چوکاټ ..... 2

سریزه ..... 3

**سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو د څانګې تأسیس او پیژندنه** ..... 3

لومړی فصل ..... 6

**۱ - د څانګې پیژندنه** ..... 6

دویم فصل: د داخلي او بهرنۍ محیطي عواملو تحلیل ..... 9

**د داخلي عواملو تحلیل (Internal Factors Evaluation Matrix)(IFEM)** ..... 9

د خارجي ( بهرنیو ) عواملو تحلیل **(External Factors Evaluation Matrix)(EFEM)** ..... 10

**فرصتونه** ..... 10

ننګونې ..... 10

**د پوهنځي د ستراتېژیو ټاکنه** ..... 11

**د داخلي او بهرنیو عواملو پرتلنه او نهایي نمرې** ..... 11

**د داخلي او بهرنیو عواملو نهایي نمرې** Matrix External & Internal ..... 11

دریم فصل ..... 15

**لومړۍ برخه: علمي څېړنې** ..... 15

دویمه برخه: په ټولنه کې ونډه اخېستل ..... 16

درېمه برخه: عواید ..... 17

پنځمه برخه: هوکړه لیکونه او نړیوالې اړیکې ..... 18

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د (۱۴۰۲) عملیاتي پلان ..... 20

د بودیجې ټاکنه ..... 23

د ستراتېژۍ اجرا ..... 27

د استراتېژۍ ارزیابي ..... 27

## د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د امر پیغام!

د بشري ژوندانه او هېوادونو پرمختګ په علم او څېړنو پورې تړلی دی، دا چې پوهنتونونه د هیواد علمي، تدریسي او څېړونیزو سترو مرکزونو په توګه د هیواد په مادي او معنوي رغونه او انکشاف کې رغنده رول لوبوي، نو په همدې اساس اړینه ده چې ددې علمي بنسټونو د معیاري کېدو په پار د ځوانو استعدادونو د روزنې او ټولنې ته د خدمت په موخه اغېزمن اقدامات ترسره شي.

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په چوکاټ کې دې موخې ته د رسېدو او دندې ترسره کولو په برخه کې ژمن دی او د ځوانو استعدادونو د روزنې لپاره د نظري او عملي زده کړو له لارې مهم اقدامات ترسره کوي.

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانکې محصلین به ددې څانګې د متخصصو او مجربو استادانو د تدریس په پایله کې د افغانستان، سیمې او نړۍ د سیاسي ، ټولنیز، تاریخي، اقتصادي او نورو اړینو مسایلو په اړه کافي پوهه ترلاسه کړي.

نه یوازې دا چې ګران محصلین به د اړوند مسایلو په اړه په نظري ډول زده کړې ترلاسه کړي، بلکې د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې په چوکاټ کې د دیپلوماتیکو او سیاسي مسایلو د تطبیقاتو د مرکز له لارې د اړوندو مسایلو د تحلیل او څېړنې په اړه علمي او عملي روزنه ترلاسه کوي، تر څو په راتلونکې کې دخپل ځان، کورنۍ او ګران هیواد افغانستان لپاره د خدمت مصدر وګرځي.

**په درنښت**

**احمدنشاط کلیوال**

**د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې آمر**

## د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې لپاره  ستراتېژیک پلان چوکاټ

### د ستراتېژیک پلان د جوړولو مراحل



## سریزه

الحمدلله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه اجمعین


د خدای تعالی شکر اداء کوم چې ماته يې ددي توفيق راکړترڅو التقوی دلوړو زده کړو دمؤسسې په چوکاټ کې دحقوقواو سیاسي علومو پوهنځې مربوط د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د ښې رهبرۍ پخاطر پنځه کلن پلان ، ددې بنسټ دلویو ټاکل شوو اهدافو دترلاسه کولو ، پدې برخه کې د نیمګړتیاؤ دلیرې کولو او په نهایت کې دفعالیتونو دغوره ترسره کولو په منظور ، تدوین او ترتیب کړ .

د رهبرۍ او مدیریت په هکله دنویو نظریاتو په اساس هر سازمان او بنسټ دهغې دجملې څخه دلوړو زده کړو بنسټونه دي ته اړتیا لري ترڅو دخپلو فعالیتونو د پرمخ وړلو لپاره پلان او یوه نمونه ولري. نو د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ستراتیژیک پلان هم دهمدې نمونې پر بناء جوړاو تدوین شوی ، محتویات او عملي تطبیق يې داعتبار ورکونې او دکیفیت لوړونې دمعیارونو سره سم ، تدوین او جوړ شوې دي. دیادونې وړ ده چې ددې پلان په جوړونه او ترتیب کې د پوهنځي دټولو علمي کادرغړو، اداري کارکوونکو ، ممتازو زده کړیالانو او دامکان تر حده د ذیربطه اداراتو سره مشـورې او پدې برخه کې دهغوی نظریات اخیسـتل شـوي او دهغوې ګټور نظریات ددې پلان په ترتیب او جوړونه کې له پامه ندي غورځول شوي، هیله ده چې دا پلان کوم چې دپنځوکالونو لپاره یوه شامله او کامله برنامه ده، موږ سره مرسته وکړي ترڅو دخپلو ټاکل شوو لوړو اهدافو کوم چې معیاري زده کړیز او څېړنیز خدمتونه دي په ترلاســه کولو برخه مســتحکم او قوي ګامونه پورته کړو، او پدې توګه په ټولو برخو کې دظرفیت لوړونې په لور حرکت وکړو.

ددې پلان دښـه عملي کیدو او تطبیق په خاطر پدې بنسـټ کې د موجوده کارکوونکو ظرفیتونو ته په کتو ، لنډمهاله یوکلن کاري تطبیقي برنامې او او انفرادي پلانونه هم شامل دي .

## د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو د څانګې محصلین او استاد






د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د (۱۴۰۲) تحصیلي کال برحاله استادانو شمېرنه (احصایه)

| شمېره | پوهنځي | څانګې | بالمقطع | | | | | | ټول | دایمي | | | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | | | ښځینه | | | | نارینه | | | |
| | | | ډاکټر | ماستر | لیسانس | ډاکټر | ماستر | لیسانس | | ډاکټر | ماستر | لیسانس | |
| 1 | حقوق او سیاسي علومو | سیاسي علوم او نړیوالي اړیکې | 0 | 3 | 0 | | 0 | | 3 | 1 | 8 | 0 | 9 |

# د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو د څانګې شورا غړی

| ګڼه | نوم | شورا کې دنده | زده کړې کچه | اړیکې شمیره | بریښنالیک |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | احمدنشاط کلیوال | د څانګې آمر | ماستر | 0783094060 | ahmadneshat60@gmail.com |
| ۲ | سید اسرار صمیم | غړي | ماستر | 0780122407 | sayed.israr.samim@gmail.com |
| ۳ | زاهد الله خلیلی | غړي | ماستر | 0787843348 | khalilizahid@gmail.com |
| ۴ | فواد ارین | غړي | ماستر | 0789292847 | Fawad_aryan@yahoo.com |
| ۵ | حبیب الرحمن سربلند | غړی | ماستر | 0787087184 | habiburrahmansarbiland@gmail.com |
| ۶ | اسلام الدین منیب | غړی | ماستر | 0731445413 | Islamuddinmonib1985@gmail.com |
| ۷ | عبدالعزیزهمت | غړی | ماستر | 0786421089 | VC.studentaffairs@altaqwa.edu.af |
| ۸ | رشید الله شینواری | غړي | لیسانس | 0786503379 | rasheed.shinwari2014@gmail.com |
| ۹ | عزت الله عزیز | غړي | ماستر | | ezatullahaziz@gmail.com |

## لومړی فصل

### ۱ - د څانګې پیژندنه

د قانون حاکمیت، سالمه او منظمه اداره د هرې ټولنې له اساسي اړتیاوو څخه ګڼل کیږي. ددې اړتیا د بشپړولو لپاره بېلابېل واحدونه کار کوي. د هېواد د لوړو زده کړو د مؤسساتو په اډانه کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د قانون د حاکمیت، سالمې ادارې او دې اهدافو ته د رسېدو په منظور د متخصصو، کارپوهو او مجربو کادرونو د رامنځ ته کولو په موخه ایجاد شوی دی.

التقوی د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې په چوکاټ کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د سیاسي علومو او نړیوالو څانګه (چې مخکې د اداري او دیپلوماسي څانګې په نوم وو) ددې مؤسسې له تاسیس سره یو ځای په ۱۳۹۰هجري لمریز کال کې رامنځ ته شوی دی چې لومړۍ دوره محصلین یې په ۱۳۹۱ هجري لمریز کال کې جذب کړي دي بناءً دې پوهنځي عملاً په ۱۳۹۱ هجري لمریز کال کې خپل فعالیتونه پیل کړي دي او تر دا مهاله په ښه کیفیت سره روان دي، ترڅو د ټولنې د اړتیا سره سم ورزیده، متخصص او کاري کادرونه د هېواد سیاسي او اورګانونو کې د کار کولو په موخه وړاندې کړي.

### ۲- د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې لرلید او ماموریت

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې څانګړی لرلید او ماموریت لري چې په لاندې ټکو کې ورته اشاره کوو:

#### د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې لرلید

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه په پام کې لري، چې د علمي فعالیتونو په اساس د هېواد او سېمې په کچه په سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو په برخه کې د یو معیاري برنامې په توګه وپیژندل شي.

#### د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ماموریت

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د اسلامي او افغاني کلتور سره سم د علمي چاپیریال په رامنځته کولو سره په سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو کې په کارپوه، ژمن او مسلکي کادرونه روزي او ټولنې ته یې خدمت په موخه وړاندې کوي.

### ۳- د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ستراتیژیکې موخې:

1. **په ځانګه کې د څېړنيز مرکز ایجاد او د علمي څېړنو وده او انکشاف**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه په پام کې لري چې د علمي څېړنو د ودې او انکشاف لپاره ځانګړي څېړنيز مرکز ایجاد کړي او ددې طريقه د علمي څېړنو د نشر او چاپ په برخه کې د استادانو او محصلينو ظرفيت لوړونې لپاره عملي ګامونه واخلي.

2. **د علمي کنفرانسونو، ورکشاپونو، سیمینارونو او علمي سیرونو وده او انکشاف**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه په پام کې لري چې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلينو د ظرفيت لوړونې لپاره علمي کنفرانسونو، ورکشاپونو، سمينارونو او علمي سیرونو ته وده او انکشاف ورکړي.

3. **د ځانګې د عملي زده کړو د پرمختيا لپاره د مختلفو تطبيقي مرکزونو ايجادول**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه په پام کې لري چې د محصلينو د عملي وړتیاوو د لوړوالي په موخه د سیاسي او ديپلوماتيکو مسايلو د تطبيقاتو مرکز ترڅنګ د عملي زده کړو نور تطبيقي مراکز ايجاد کړي

4. **په کتابتون کې د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو د ځانګې د کتابتون غني کول**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه په پام کې لري چې په کتابتون کې د تحصيلي نصاب اړوند او د ځانګې د محصلينو لپاره نور لازم کتابونه د محصلينو د لاسرسي وړ کړي.

5. **په ملي سطحه د هوکړو لیکونو رامنځته کول**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه په پام کې لري چې د استادانو او محصلينو د علمي او عملي ظرفيت لوړونې په موخه په ملي کچه د ګڼو علمي، سیاسي او ديپلوماتيکو نهادونو سره هوکړه لیکونه رامنځته کړي.

6. **د تحصيلي نصاب دوامداره بيا کتنه او د وخت او ضرورت په اساس ترتيبول**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه د ټولنې، علمي، سیاسي او ديپلوماتيکو نهادونو د اړتیاوو سره سم تحصيلي نصاب چمتو کوي او په دوامداره توګه يې د لا غني کولو په موخه په منظم ډول ارزيابي کوي.

7. **د محصلينو لپاره د سکالرشيپونو برابرول**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه د ټولنې اقتصادي وضعیت ته په پام سره د ځوانانو د تحصيل په مختلف سکالرشيپونه اعلانوي.

8. **د ځانګې د فارغو محصلينو سره د روابطو منظم ميکانيزم رامنځته کول**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د خپلو فارغو محصلینو سره  د منظمو رابطو درلودلو لپاره مناسب منکانیزم رامنځته کوي.

**9. په ټولنه کې ونډه اخیستل**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د بیلابیلو برنامو په وړاندې کولو سره د ټولنې د ستونزو د حل په موخه ونډه اخلي.

### ۴- د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ارزښتونه (Values)

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د مشرتابه تر رهبرۍ لاندې، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه په خپله هره اړونده برخه کې د لاندې ارزښتونو په پام کې نیولو سره په دوامداره توګه علمي او اداري خدمات وړاندې کوي:

- نافذه قوانینو په رڼا کې د ملي حاکمیت او ملي ګټو ساتنه او ورته بشپړ درناوي.
- په روزنیز علمي چاپیریال کې اسلامي او ملي افکارو ته درناوي او بشپړه پاملرنه.
- د بېلابېلو علمي او ټولنیزو پروګرامونو پرمټ د ټولنې پرمختګ کې د خپلې دوامدارې ونډې ساتل.
- په تحصیلي او اداري بهیر کې د مساوات، ګډون او متقابل احترام اصلونو رعایت.
- صداقت او رښتینولي
- متقابل درناوی
- عدالت او مساوات
- وړتیا او شایسته سالاري
- اخلاق
- سالمه اداره او رهبري
- درسي میتودونه

## دويم فصل: د داخلي او بهرنې محيطي عواملو تحليل

### د داخلي عواملو تحليل (IFEM)(Internal Factors Evaluation Matrix)

| قوتونه | STRENGTHS: | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د پیاوړتیا ټکي | د وزن نمرې | وزن | امتیاز |
| S1 | ځانګه په کافي اندازې سره مسلکې علمي کادر غړې لري. | 0.260 | 0.065 | 4 |
| S2 | د ځانګې تدريسي خونې معيارې او په عصري وسايلو سمبال دي. | 0.260 | 0.065 | 4 |
| S3 | ځانګه خپلې چارې د تقنيني اسنادو، پلانونو او پالیسیانو په اساس پرمخ وړې. | 0.135 | 0.045 | 3 |
| S4 | ځانګه په ملي، کچه ځیړنې خپروي. | 0.135 | 0.045 | 3 |
| S5 | ځانګه مناسب زده کړه ایز چاپیریال لري. | 0.075 | 0.025 | 3 |
| S6 | ځانګه د تفريح او سپورټ لپاره مناسب ځاي لري. | 0.075 | 0.025 | 3 |
| S7 | ځانګه معياري او په عصري وسايلو سمبال خونې لري. | 0.260 | 0.065 | 4 |
| S8 | ځانګه منظم او معياري ډيټابيس لري. | 0.135 | 0.045 | 3 |
| S9 | ځانګه د بريښنايي زده کړو په برخه کې معياري خدمات لري. | 0.135 | 0.045 | 3 |
| S10 | په کتابتون کې د ځانګې اړوند په کافي اندازې سره کتابونه شتون لري. | 0.075 | 0.025 | 3 |
| S11 | ځانګه د علمي څیړنو لپاره لازم امکانات لري. | 0.135 | 0.045 | 3 |
| S12 | ځانګه د امنيتي خونديتوب لپاره لازم امکانات لري. | 0.180 | 0.045 | 4 |
| S13 | ځانګه د طبيي افاتو د کنترول لپاره لازم امکانات لري. | 0.180 | 0.045 | 4 |
| S14 | ځانګه د بيړنې حالاتو د خبراوي لپاره لازم امکانات لري. | 0.192 | 0.048 | 4 |
| S15 | ځانګه د فيس پرته نور عايداتي کانالونه لري. | 0.135 | 0.045 | 3 |
| S16 | ځانګه په ملي او نړيواله کچه هوکړه ليکونه لري. | 0.100 | 0.025 | 4 |
| S17 | ځانګه په سيمه او نړيواله کچه څیړنې خپروي. | 0.180 | 0.045 | 4 |
| S18 | ځانګه د نشراتو فعال او معياري سيستم لري. | 0.100 | 0.025 | 4 |
| S19 | ځانګه د محصلانو ظرفيت لوړونې لپاره عملي برنامې او علمي سيمينارونه وړاندې کوي. | 0.220 | 0.055 | 4 |

| | د کمزورتیا ټکي | د وزن نمرې | وزن | امتیاز |
|---|---|---|---|---|
| W1 | ځانګه د بيړنيو حالاتو د کنترول لپاره ځانګړې کود نه لري. | 0.007 | 0.007 | 1 |
| W2 | په ځانګه کې د دوکتورا لرونکي ستادانو د کمبت سره مخ دی. | 0.052 | 0.026 | 2 |
| W3 | په ځانګه کې د استاد، محصل او اداري کارکوونکي تناسب کمزوری دی. | 0.052 | 0.026 | 2 |
| W4 | ځانګه مالي استقلاليت نه لري. | 0.026 | 0.026 | 1 |
| W5 | د ځانګې استادان علمي رتبې نه لري. | 0.044 | 0.044 | 1 |
| W6 | . | 0.088 | 0.044 | 2 |
| | | 3.235 | 1.000 | TOTAL |

## د خارجي (بهرنيو) عواملو تحليل (EFEM)(External Factors Evaluation Matrix)

د خارجي عواملو د تحليل په موخه لازمه ده ، چې فرصتونه او ننګونې په ګوته کړو او په پایله کې د (QSPM) پر بنسټ د ستراتېژیو لومړیتوب وټاکو.

### رصتونه

**د ځانګې تحصیلي نصاب د ټولنې د اړتیاو سره برابر دي.**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو تحصیلي نصاب د ټولنې د اړتیاوو سره سم ترتیب شوي او د غوره والي په موخه په منظم ډول ارزیابي کیږي.

**د ځانګې فارغ محصلین په کاري او عملي برخو کې کامیاب دی.**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګې فارغ محصلین په خپلو کاري ساحو کې موثر او د اداراتو اړتیاوو ته په مناسب ډول رسیدګي کوي

**اوسنې امنیتي وضعیت د ځانګې د زده کړه ایزو فعالیتونو لپاره مناسب دی.**

د هیواد حاکم امنیتي وضعیت د ځانګې د فعالیتونو لپاره مناسب دی

**د ځانګې د محصلینو لپاره ټاکل شوی فیس د ټولنې د اقتصادي وضعیت سره برابر دی.**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه د هیواد د شته اقتصادي وضیعت په نظر کې نیولو سره د محصلینو څخه مناسبه اندازه فیس اخلي.

**ځانګه د خپلو عملي برنامو په وړاندې کولو سره په ټولنه کې مثبت رول ادا کوي.**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه د بیلابیلو علمي او عملي برنامو په وړاندې کولو سره د ټولنې ستونزو رسیدګي کوي او له همدې طریقه په ټولنه کې فعاله ونډه لري.

**د ځانګې مناسب درسي چاپیریال په ځانګه د محصلینو د جذب لپاره موثر دی.**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ځانګه مناسب تدریسي چاپیریال لري چې له امله یې په ځانګه کې د محصلینو د جذب مثبت تاثیر درلودلی دی.

### ننګونې

**په اداراتو کې په کافي اندازې سره د کاري فرصتونو نشتون**

دا چاره ددې سبب شوی، چې د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو په ځانګه کې د ځوانانو د تحصیل سره لیوالتیا کمه شي. او ځانګه د محصلینو په جذب کې له ستونزو سره مخ شي.

### د تحصيلي بنسټونو ترمنځ غير مناسب رقابت

په تحصيلي برخه کې د پوهنتونونو او تحصيلي مؤسساتو ترمنځ غير مناسب رقابت د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو په څانګه کې د محصلينو پر جذب منفي تاثيرات لرلي.

### د هيواد اوسنی ضعيف اقتصادي وضعيت

په هېواد کې د اوسنې ضعيف اقتصادي وضعيت له امله له يوې خوا د لوړو زده کړو سره د ځوانانو ليوالتيا کمه شوې او له بلې خوا د څانګې اړوند پرمختايې علمي فعاليتونه هم زيانمن شوي.

### د ځوان کهول لخوا د هيواد پريښودل

د ځوانانو لخوا د هېواد پرېښودل ددې سبب شوی، چې د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګه د محصلينو په جذب کې د ستونزو سره مخ شي.


## د پوهنځي د ستراتېژيو ټاکنه

د دې لپاره ، چې د (QSPM) پر اساس د ستراتيژيو لومړيتوب وټاکل شي، نو د لوړو زده کړو وزارت د سراتېژيک پلان د ملي برنامې له خوا ، چې کوم موارد ټاکل شوي، په لاندي ډول يې په لنډه توګه يادونه کوو.

### د داخلي او بهرنيو عواملو پرتلنه او نهايي نمرې

### د داخلي او بهرنيو عواملو نهايي نمرې

Matrix External & Internal




| | | |
|---|---|---|
| 1 | HARVEST & DIVEST | 4, 7, 8 |
| 2 | HOLD & MAINTAIN | 1, 5, 9 |
| 3 | GROW & BUILD | 2, 3, 6 |

| داخلي عوامل / بهرنې عوامل | پیاوړي ټکي | کمزوري ټکي |
| --- | --- | --- |
| | څانگه په کافي اندازې سره مسلکي علمي کادر غړي لري. S1<br>د څانگې تدریسي خونې معیاري او په عصري وسایلو سمبال دي. S2<br>څانگه خپلې چارې د تقنیني اسنادو، پلانونو او پالیسیانو په اساس پرمخ وړي. S3<br>څانگه په ملي، کچه څېړنې خپروي. S4<br>څانگه مناسب زده کړه ایز چاپیریال لري. S5<br>څانگه د تفریح او سپورټ لپاره مناسب ځای لري. S6<br>څانگه معیاري او په عصري وسایلو سمبال خونې لري. S7<br>څانگه منظم او معیاري ډیټابیس لري. S8<br>څانگه د برېښنايي زده کړو په برخه کې معیاري خدمات لري. S9<br>په کتابتون کې د څانگې اړوند په کافي اندازې سره کتابونه شتون لري. S10<br>څانگه د علمي څېړنو لپاره لازم امکانات لري. S11<br>څانگه د امنیتي خوندیتوب لپاره لازم امکانات لري. S12<br>څانگه د طبیي افاتو د کنترول لپاره لازم امکانات لري. S13<br>څانگه د بېړني حالاتو د خبراوي لپاره لازم امکانات لري. S14<br>څانگه د فیس پرته نور عایداتي کانالونه لري. S15<br>څانگه په ملي او نړیواله کچه هوکړه لیکونه لري. S16 | څانگه د بېړنیو حالاتو د کنترول لپاره څانگړې کود نه لري. W1<br>په څانگه کې د دوکتورا لرونکې ستادانو د کمښت سره مخ دی. W2<br>په څانگه کې د استاد، محصل او اداري کارکوونکې تناسب کمزوری دی. W3<br>څانگه مالي استقلالیت نه لري. W4<br>د څانگې استادان علمي رتبې نه لري. W5<br>. W6 |

| | | |
|---|---|---|
| | پوهنځي | |
| | ځانگه په سیمه او نړیواله کچه ځیړنې خپروي. S17<br>ځانگه د نشراتو فعال او معیاري سیستم لري.S18<br>ځانگه د محصـلانو ظرفیت لوړونې لپاره عملي برنامې او علمي سیمینارونه وړاندې کوي. S19 | |
| **فرصتونه** | **تهاجمي وضعیتSO Strategies** | **محافظه کاري وضعیت WO Strategies** |
| 01. د ځانگې تحصیلي نصاب د ټولنې د اړتیاو سره برابر دي.<br>02. د ځانگې فارغ محصـلین په کاري او عملي برخو کې کامیاب دی.<br>03. اوسنې امنیتي وضعیت د ځانگې د زده کړه ایزو فعالیتونو لپاره مناسب دی.<br>04. ځانگې د محصـلینو لپاره ټاکل شوی فیس د ټولنې د اقتصادي وضعیت سره برابر دی.<br>05. ځانگه د خپلو عملي برنامو په وړاندې کولو سره په ټولنه کې مثبت رول ادا کوي.<br>06. د ځانگې مناسب درسي چاپیریال په ځانگه د محصـلینو د جذب لپاره موثر دی. | د S1,S2,S3,S4,S9 په مرسته کولای شو له O1 څخه استفاده وکړو.<br>د S7,S5,S14 په مرسته کولای شو له O2 څخه استفاده وکړو.<br>دS14,S8,S3 په مرسته کولای شو له O5 څخه استفاده وکړو.<br>دS10,S5 په مرسته کولای شو له O6 څخه استفاده وکړو.<br>دS9,S5 په مرسته کولای شو له O4 څخه استفاده وکړو. | موړ دخپل تحلیل په ترڅ کي داپایله ترلاسه کړه چي د O2 په مرسته W3,W5 حل کیږي.<br>موړدخپل تحلیل په ترڅ کي داپایله ترلاسه کړه چي د O4 په مرسته W6 حل کیږي.<br>موړ دخپل تحلیل په ترڅ کي داپایله ترلاسه کړه چي د 04 په مرسته W6 حل کیږي. |

| **THREATS:**<br>**گواښونه** | | **WT STRATEGIES : تدافعي وضيعت** |
|---|---|---|
| په پوهنځي کې د استادانو او محصلینو تر مینځ مذهبي، قومي، نژادي او جنسیتي تعصب شتون لري.<br>T1<br>د خلکو غربت د حقوقو پوهنځي په محصلینو تاثیر لري.<br>T2<br>د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادانو او محصلینو ته امنیتي تهدیدات.<br>T3<br>په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د ماسترۍ برنامې د شروع کولو ضرورت لیدل کیږي.<br>T4 | موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T2 دي S6,S7 په مرسته رفع کیري .<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T5 دي S9,S10 په مرسته رفع کیري .<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T4 دي S11 په مرسته رفع کیري .<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T3 دي S9 په مرسته رفع کیري .<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T4 دي S3,S8 په مرسته رفع کیري . | موږ دخپل تحلیل په ترځ کي ترلاسه کړه چي د W12 په مرسته T5 رفع کیږي<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي ترلاسه کړه چي د W3 په مرسته T4 رفع کیږي<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي ترلاسه کړه چي د W12 په مرسته T6 رفع کیږي<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي ترلاسه کړه چي د W5په مرسته T2 رفع کیږي |

# دریم فصل

## پنځه ګونې برخې

### لومړۍ برخه: علمي څېړنې

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو  څانګه په دوو برخو کې (د استادانو او محصلینو پرمټ) علمي څېړنیز فعالیتونه سرته رسوي. په تیرو دریو کالونو کې دڅانګې داستادانو دظرفیت په تناسب ، څېړنیز فعالیتونه نسبتاً ښه ترسره کړې دي، په نظر کې ده چې په راتلونکو پنځه کلونو کې دعلمي څېړنو لړۍ لا جدي شي، داستادانو او زده کړیالانو دڅېړنیزو فعالیتونو په برخه کې هدفمندي اودټولنې د پرمختګ په نظر کې نیولو سره لازم فعالیتونه ترسره کوي.

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د علمي څېړنو او په دې برخه کې د استادانو او محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کوي.

#### ۱: څېړنیزه پلان جوړونه

 پدې برخه کې د پرمختګ لپاره، دقیق او موخو لرونکې پلان  ته چې په هغې کې موخې  او څېړنیز فرصتونه معلوم وي ترڅو د استادانو او زده کړیالانو څېړنیز فعالیتونه دهدفمندۍ او دټولنې دپرمختګ لپاره اغیزمن وي،  اړتیا ده.

#### ۲:  د څېړنې دلارښود جوړونه او ترتیب

 د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو  څانګه دعالی رتبه لوړو زده کړو لرونکو استادانو څخه په استفادې دمعیاري علمي څېړنو لپاره لارښود جوړ او ترتیبو.

#### ۳: دکتابتون بډایه کول

 لکه څرنګه چې دڅېړنو لپاره معیاري او په کافي توګه معلوماتو ته اړتیا ده ، نوپه همدې اساس دسیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه دعلمي څېړنو په خاطر استادانواو زده کړیالانو ته خپل کتابتون لا بډایه کوي او هڅه کوي ترڅو نوي او مشهور کتابونه خپل کتابتون ته وپیري.

#### ۴:  د ورکشاپونو داېرول

 د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه  دعلمي څېړنو معیاري کولو، داستادانو او زده کړیالانو د ظرفیت لوړوني په خاطر ورکشاپونه او دڅېړنو دترسره کولو دلارو په برخه کې سیمینارونه ، دعلمي کادرونو او زده کړیالانو ته داېروي.

#### ۵: داستادانو او زده کړیالانو دڅېړنیزو مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه

هر کال لنډمهاله زده کړه ایز کورسونه داستادانو او زده کړیالانو دڅېړنیزو مهارتونو او ظرفیتونو دلوړوني لپاره داېریږي ، دغه برنامې زده کړیالانو لپاره  دسیاسي او نړیوالو مسایلو تطبیقاتو په  مرکز کې دعملي تمثیل په شکل داېریږي.

#### ٦: د رقابتي فضاء ایجادول

داستادانواو زده کړیالانو د تشویق او هڅوني پخاطر ترڅو غوره څېړنیز فعالیتونه ترسره شي، دڅانګې په سطحه رقابتي فضاء ایجاد شوې ، هر کال دترسره شوو علمي څېړنیزو آثارو څخه دکال غوره آثر ټاکل کېږي او پدې توګه دنوموړې علمي آثر څېړونکې تقدیر ېږي .

**۷: څارنه او ارزونه**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه دپوهنځي په چوکاټ کې داستادانو او زده کړیالانو دڅیړنیزو فعالیتونو څخه د څارنې او ارزونې پروسه قوي کړې ، هرکال داستادانو له فعالیتونو ارزونه کوي.

## دویمه برخه: په ټولنه کې ونډه اخېستل

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه په ټولنه کې د ونډې اخیستنې په برخه کې ځان مسؤله ګڼې او ددې چارې د لا ښه ترسره کولو لپاره لاندې برنامې په نظر کې لري :

**۱: د محصلینو ګډون**

محصلین د ټولنې په پرمختګ کې د دوی د ونډې څخه خبر دي او دوي هڅول کيږي چې د ټولنې په پرمختګ کې ونډه واخلي. د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د ټولنې په پرمختګ کې د محصلینو د ونډې لپاره لاندې برنامې په نظر کې لري.

الف ـ د عامه پوهاوي د لوړولو لپاره د علمي سیمینارونو چمتو کول

ب - د محصلینو له لورې د ټولنې اړوند د ډله ییزو علمي څیړنې وړاندې کول او د هغې پایلې خپرول

ج ـ د خپل مسلک مطابق د عملي کارونو د ترسره کولو لپاره د محصلینو هڅول

**۲: لوړو زده کړو ته لاسرسی او د محصلینو ملاتړ**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د خپلو علمي او څیړنیزو خدمتونو په وړاندې کولو سره د هېواد د نوي نسل د علمي روزنې په برخه کې اغېزمن اوګټور ثابت شوي او د ځوان نسل د سوکالی او پرمختګ لپاره یې د وړتیاوو د ودې او پرمختګ زمینه هم برابره کړې ده. د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه هڅه کوي چې د پورته موخو د ترلاسه کولو او لا پیاوړي کولو لپاره د الله تعالی په مرسته به لا اغیزمن او ارزښتناک ګامونه پورته کړي، چې په پایله کې به یې د لابریالیتوب او علمي بریاوو شاهدان واوسو.

**۳: د کارمندانو ګډون**

علمي او اداري کارمندان د امکان تر حده په خپلو فعالیتونو بوخت دي ترڅو په محلي او ملي پرمختګ کې خپله ونډه وښيي. د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د دې پروګرامونو د پلي کولو لپاره لاندې برنامې په پام کې نیولی دی چې عبارت دي له:

الف ـ د ملي او نړیوالې ورځې د لمانځل

ب ـ د ټولنې د پرمختګ لپاره په راډیو او تلویزیوني پروګرامونو کې د استادانو ګډون

ج - په کنفرانسونو کې د استادانو او کارکوونکو ګډون

د – د اړونده تحصیلي او تعلیمي اداری سره د پوهنځي څخه بهر د سیمینارونو چمتو کول

## دریمه برخه: عواید

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د محصلانو لپاره د خدمتونو په وړاندې کولو سره د لاندې برخو څخه عواید ترلاسه کوي

**۱: د سمستر مطابق د فیس څخه عواید ترلاسه کول**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د محصلینو د فیس څخه به سمستر وار توګه عواید ترلاسه کوي.

**۲: د فراغت د اسنادو څخه قانوني عواید ترلاسه کول**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د فراغت د اسنادو څخه د اصولو مطابق عواید ترلاسه کوي.

**۳: د علمي څیړنو او تحقیقاتو څخه عواید ترلاسه کول**

د نړۍ په علمي بنسټونو کې د علمي څېړنو ترسره کېدل معمول دي، په داسې حال کې چې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې دې برخې ته ډېره پاملرنه نه ده شوې او نه هم علمي بنسټونو خپلو استادانو او محصلینو ته منا سب فرصتونه برابر کړي دي. د التقوی لوړو زده کړو مؤ سسې په چوکاټ کې د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه ژمنه ده، چې تر راتلونکو پنځو کلونو پورې خپلو استادانو او محصلینو ته داسې اسانتیاوې برابرې کړي چې د دې څانګې د عوایدو سرچینه وي.

**۴: د سیاسي او ډیپلوماتیکو مسایلو د تطبیقاتو د مرکز څخه عواید ترلاسه کول**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه په پام کې لري، چې د سیاسي او ډیپلوماتیکو مسایلو د تطبیقاتو د مرکز له لارې د بیلابیلو کورني او بهرنیو علمي مرستندویو مؤسساتو څخه د علمي او څېړنیزو پروژو د اخیستلو له لارې د یوې خوا څخه ټولنې ته خدامات وړاندې کړي او له بلې خوا د څانګې لپاره به عواید ترلاسه شي.

## څلورمه برخه: تکنالوژي

د څانګې په کچه د برېښنايي زده کړو کمبټه شتون نه لري، مګر د کمپیوټر، LCD، انټرنیټ ته د لاسرسي اسانتیا او ځینې نور وسایل او د برېښنايي زده کړو اسانتیاوې د پوهنځي او مؤسسې په چوکاټ کې د محصلینو لپاره رامنځته شوي دي چې د یوې تګلارې له به اساس د محصلینو به لاس رسي کې قرار لري.

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د برېښنايي زده کړو تدریس د دې پلان یو هدف ټاکلی او په راتلونکو پنځو کلونکو کې په دې برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

1. **د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې استادانو لخوا د برېښنايي زده کړو د مختلفو ویډیو ګانو ثبتول.**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې استادان د مضمون کورس پالیسی ته په پام درسي مفردات د ویډیو په شکل ثبتوي او زدکړیالانو ته یې د مختلفو ارتباطي وسائیلو له لارې په اختیار کې ورکوي.، چې زدکړیالان کولای شي په اسانی سره د اړونده مضمون ویډیو وګورې او زده

کړه ترې وکړی، د د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه په دغه برخه کې د استادانو فعاله ګورپ جوړ کړی دی، که ، چېرته له کوم محصل سره د درسي مفرداتو اړوند کومه پوښتنه پیدا شي نو کولای شي ، چې په دغه ګروپ کې خپله پوښتنه مطرح کړي او د اړونده استاد له خوا ورته ځواب ورکول کېږه.

#### سکرین ریکارډ

د سـیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د سـکرین ریکارډ په برخه کې هم زدکړیالانو ته د زده کړې زمینه برابروي تر څو د زدکړیالانو ا ستعدادونه وروزل شي او د دوی درسي بهیر له خنډ او ځنډ ښکار نه شي، په سکرین ریکارډ کې له مهمو سافټویرونو کار اخیستل کېږي ، چې اغیزمن هغه یې Band came دی.

#### ډیټابیس

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د ډیټابیس له لارې هم زدکړیالانو ته د زده کړې زمینه برابر کړې ده، ، چې د دې لارې څخه نوموړي پوهنځي خپلو زده کوونکو ته ګڼ پاور پاینټ(power point )درســونه برابر کړي دي. همدارنګه د تدریس په برخه کې هم د برېښـــنایي تکنالوژۍ څخه هم استفاده کېږي لکه پاور پاینټ په سکرین شو کول.

#### آنلاین نوم لیکنه

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ټولو جدید شموله زدکړیالانو ته په آنلاین ډول د نوملیکنې زمینه برابره کړې، یعنی زدکړیالان کولای شي ، چې په انلاین ډول سره خپل ثبت نام وکړي.

#### آنلانین حاضري

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې استادان د صنفونو حاضري هم له پرمختللې برېښنایي ټګنالوژۍ څخه په ګټې اخیستنې سره دوامداره ډول اخلي.

#### د زدکړیالانو د استازو انلاین شبکه

د سـیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د اړونده مضـامینو درسي مفردات او نور مواد د ټکنالوژۍ له لارې صـنفونو نماینده ګانوسره شریکوي ترڅو دوی ته په زده کړه کې اسانتیا رامنځته کړي.

دغه راز د برېښنایي ټکنالوژۍ له لارې حقوقو پوهنځي خپل ټول مهال ویشونه د زدکړیالانو سره شریکوي، ترڅو زده کوونکي په ا سانۍ سره وتوانېږي ، چې خپل د صنف مهال ویش ترلاسه کړي.

## پنځمه برخه: هوکړه لیکونه او نړیوالې اړیکې

#### د هوکړه لیکونو او توامیتونو رامنځته کول او د هغې پراختیا

د تحصیلي مؤسسو لپاره یو له مهمو او اساسي مسایلو څخه د قانون په رڼا کې په نړیواله کچه له بهرنیو او نامتو تحصیلي بنسټونو سره د لوړو زده کړو سره د اړیکو ټینګول دي.
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه له دولس کلونو راهیسې د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کې فعالیت کوي او هڅه کوي چې د لاندې پروګرامونو له لارې له نړیوالو تحصیلي سره د دې څانګې د اړیکو د پراخوي:
دا یو ښکاره حقیقت دی، چې علمي او اکاډمیک بنسټونه د بهرنیو تحصیلي مؤسسو سره د مکتوبونو او لیکنو پرته نشي کولی خپل علمي فعالیتونه په اغیزمنه توګه او د نړیوالو معیارونو سره سم ترسره کړي، نو له همدې امله د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه د اکادمیک کیفیت لوړولو او اعتبار لپاره د نورو اړوندو اکاډمیکو مؤسسو سره د همکارۍ علمي اړیکو رامنځته کولو او ساتلو ته اړتیا لري.
له همدې امله د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه په پام کې لري چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د هېواد له معتبرو ملي او نړیوالو پوهنتونونو د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګو سره همکاري وکړي.

- ✓ د ماسټرۍ او دوکتورا کورسونو ته د استادانو او محصلینو استول
- ✓ ګډ علمي څېړنه ترسره کول
- ✓ د سیمینارونو او ورکشاپونو لپاره د کورنیو او بهرنیو پوهنتونونو د استادانو رابلل

# د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د (۱۴۰۲) عملیاتي پلان

| شمېره | موخې | فعالیتونه | د فعالیت د تطبیق موده | د فعالیت د پیل نېټه | د فعالیت د پای نېټه | د اړتیا وړ بودیجه | | مسول شخص یا اشخاص | مرسته کوونکی شخص | متوقع پایلې | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | عادی (افغانی) | انکشافی (افغانی) | | | | |
| 1. | د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې موخو، ضعف ـ قوت ټکو او فرصتونو، استراتیژیکو موخو او ننګوونو معلومول | د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د استراتېژیک پلان تدوین | دوه میاشتې | حمل (۱) | ثور (۲۸) | | | د څانګې آمر | استراتېژیک پلان کمېټې | د دیپارتمنتونو د چارو تنظیم او انکشاف | |
| 2. | د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د علمي او اداري چارو تنظیم او تصویب | د کلني مهال ویش مطابق د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د شورى ګانو تدویر | یو کال | حمل (۱) | حوت (۲۹) | | | د څانګې آمر | د څانګې د شورى منشی | په ګډه د تصامیمو نیول | |
| 3. | د استاد د قوت او ضعف نقاطو تشخیص | د استادانو ارزونه | یو کال | حمل ۱ | قوس ۳۰ | | | د څانګې آمر | تضمین کیفیت کمېټه | د استاد د قوت نقاطو لا تحکیم او ضعف نقاطو اصلاح | |
| 4. | د حساب ورکوونې د اصل تامین | د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې له لوري د پوهنځیو علمي شورى ګانو ته د کلنیو کاري راپورونو وړاندې کول | | | دلوې (۲۱) | | | د څانګې آمر | | د چارو له اجرا څخه د ډاډ حاصلیدل | |
| 5. | د تشویق او ترغیب اصل تامین | د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو مکافات او مجازات | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس او مرستیال | د عدالت، نظم ـ دسپلین او شفافیت تحقق | |
| 6. | د کارونو تنظیم او تنسیق | د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ۱۴۰۳ عملیاتي پلان جوړول | | | حوت ۱۲-۱۷ | | | د څانګې آمر | استراتېژیک پلان کمېټې | د تعین شوو موخو تر لاسه کول | |
| 7. | د عوایدو انکشاف | غایبو محصلانو تعقیب | متداوم | | | | | د څانګې آمر | تدریسی مدیریت | د چارو د مخ ته وړلو او انکشاف لپاره په کافي اندازه بودیجه لرل | |
| 8. | د عوایدو انکشاف | د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې کې د محصیلینو جذب | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس او مرستیال | د چارو د مخ ته وړلو او انکشاف لپاره په کافي اندازه بودیجه لرل | |
| 9. | د علمي برنامو بهبود | د هري علمي برنامې کلنی څارنه (APM) تر سره کول | یو کال | حمل ۱ | دلوې ۱ | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس او مرستیال | د علمي برنامو اصلاح او انکشاف | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| .10 | د کتلاک معیاري کول | د سیاسـی علومو او نړیوالو اړیکو د څانګې د کتلاک جوړول | درې میاشتې | حمل ۱ | جوزا ۳۱ | | | د څانګې آمر | نشراتو مدیریت | پـه چـارو کـې د موثر یت رامنځ ته کول او د تضمین کیفیت غوښتنه پوره کول | |
| .11 | د موثریت تامین | د څانګې په ظرفیت لوړونه او بهبود کې د ګډو همکاریو د پروتوکولونو څخه ګټه اخیستل | یو کال | حمل ۱ | حوت ۲۹ | | | د څانګې آمر | د څانګې استادان | د ظرفیتونو انکشاف | |
| .12 | د علمي انکشاف تشخیص | خودي ارزونه تر سره کول | | | عقرب ۴ | | | د څانګې آمر | تضـمین کیفیت کمېټه | د نیمګړتیاوو د رفع کولو لپاره لازم اقدامات تر سره کول | |
| .13 | د یو لړ عاجلو او مهمو مسایلو په اړه بحث او پریکړه کول | د څانګې فوق العاده او عادي غونډو دایرول او مشري کول | یو کال | حمل ۱ | حوت ۲۹ | | | د څانګې آمر | د څانګې د شـورا غړي | د یو لړ مهمو او عاجلو مسـایلو په اړه پریکړې کول | |
| .14 | د نظري زده کړو ترڅنګ د عملي زده کړو زمینه برابرول | د سـیاسـی علومو او نړیوالو اړیکو څانګې محصـلینو ته د عملي کارونو په موخه زیربطه ادارو تـه معرفي کول او د علـمي سـیمینارونو او ورکشاپونو ته دایرول | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس، مرسـتیال، د څانګې اسـتادان او مسـلکي پرمختیا کمېټه | د محصـیلینو د ظرفیت لوړېدا | |
| .15 | د محصیلینو د ستونزو حل | د محصـیلینو سره د درسي سـتونزو او نورو علمي او اداري سـتونزو پۀ اړونده مشورتي غونډو دایرول | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس او مرستیال | د محصـیلینو د ستونزو حل | |
| .16 | د درس د کیفیت د ښـه والي په موخه | د محصـلینو د درسي بهیر او علمي کادر د غړو تدریسي چارو څخه څارنه او نظارت | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس او مرستیال | د تـدریـس د کیفیت ښه والي | |
| .17 | د محصلینو د پوهې درجې لوړوالی په موخه | د محصـلینو لپاره د عملی او تمثیلی برنامو په لاره اچول | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د څانګې استادان او د مسـلکي پرمختیا کمېټه | د محصـیلینو د پـوهې د درجې لوړوالی | |
| .18 | د څانګې اړونده چارو په اړه د اړتیا په صـورت کې معلو مات وړا ندې کول ، همدارنګه د مسایلو د حل په موخـه پـه پریکړو کې نظر او رایـه ورکول | د پوهنځی او مؤسـسې په علمي شـورا ګانو په نوبتي او فـوق الـعاده غـونـډو کـې دڅانګې آمر په حیث ګډون | یو کال | حمل ۱ | حوت ۲۹ | | | د څانګې آمر | | د اړونده سـتونزو حل | |
| .19 | د استادانو د کمښت ستونزې د رفع کولو په موخه | د اړتیا پـه صـورت کې د پوهنځي ریاسـت ته د نویو استادانو د استخدام وړاندیز کول | د اړتیا پر مهال | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس او مرستیال | د اسـتـادانـو د کمښت د ستونزې حل | |
| .20 | د وزارت د لوایحو د تطبیق په موخه د ا ستادانو ترمنځ علمی سیمینارونو فرهنګ ته وده ورکول | د علمی کـادر لخوا د علمی سـیمینـارونو پـه لاره اچولو پروسې څخه څارنه کول | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس او مرستیال | د وزارت د لوایحو تطبیق او علمی سیمینارونو پر لاره اچولو فرهنګ ته وده ورکول. | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| .21 | د زده کړې بهیر د پیاوړي کولو په موخه | د محصــلینو د علمی کړنو د چارو تعقیبول او ورڅخه څارنه کول | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس او مرستیال | د محصـــلینو د ظرفیت لوړول | |
| .22 | د څانګې د اداري چارو د تنظیم او د مونوګرافونو لپاره د نویو موضوعاتو تعیین | د محصــلینو د مونوګرافونو د عریضو چیک کول د عمومی ډیتابس سره | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي ریس او مرستیال | د محصـــیلینو د مونوګرافونو لیکـل او پر خپل مناسب وخت دفاع کول | |
| .23 | د څـانګې د اداري چـارو د تنظیم لپاره | د محصــلینو د مونوګرفونو د ثبـت او دفـاع ګـانو چـارې تنظیم او په لاره اچول | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د څـانګې د شـــورا غړي | د څانګې د اداري چـارو تنظیم او د محصـــیلینو د مونوګرافونو لیکـل او پرخپل مناســب وخت دفاع کول | |
| .24 | د درسي کیفیت د ښه والی په موخه | د درسي چارو او د کریکولم مطـابق د درســی پلانونو د تطبیق څارنه | متداوم | | | | | سیاسي علومو او نـړیـوالـو اړیکو څـانګـه /نصـاب کمیټه / دتضـــمین کیفیت کمیټه | د پوهنځي ریس او مرستیال | د درسي کیفیـت ښه والی | |
| .25 | د څانګې کارمندان تقدیر ،تحســین او مجازات کول | د مکافاتو او مجازاتو د اصــل تطبیق | متداوم | | | | | سیاسي علو مو او نـړیـوالـو اړیکو څـانګـه ،حـــقــوقـــو، پـوهـنـځـی ریاست | عـــلـمـــی چـــارو مرستیالی | د مـکـافـاتـو او مجازاتو د اصـــل تأمین | |
| .26 | د څیړنو ملاتړ | څیړنو ته د اســتادانو معرفي کول او د څیړنو تعقیبول | متداوم | | | | | د څانګې آمر | د پوهنځي د څیړنو کمیټه | د څـیـړنـو تـرسره کول | |
| .27 | اسنادو ته د اسانه لاس رسی په پار د اسنادو منظم کول | ســیاسي علومو او نړیوالو څانګې د دوســیو منظم فایل کول او د پوهنتون پـه یو فارمټ کوډینګ کول | یو کال | حمل ۱ | حوت ۲۹ | | | د څانګې آمر | خدماتي کارمندان | د څانګي د اسنادو منظم کول او حفظ کول | |
| .28 | په چاور کې شــفافیت او د پلان دتطبیق څخه اطمینان،او په چاور کې سلسله مراتب رعایت کول | د څانګې اړوند اونیز ،میاشتنې ،ربعوار او کلنی راپورونـه ترتیب او د پوهنځی ریاســت ته سپارل | یو کال | حمل ۱ | حوت ۲۹ | | | د څانګې آمر | د څـانګې د شـــورا غړي | پـه اړونـدو چـارو کې شــفافیت او د پلان تطبیق | |
| .29 | علمي او اداری چاور سمبالښت | د هغه تعداد محصـلین چې د مونوګرافونو چـاری پـای تـه رسـولی د ورســتیو اجرآتو په پـار اړونـده مراجعو مکتوپآ ورلیږل | یو کال | حمل ۱ | حوت ۲۹ | | | د څانګې آمر | تدریسی مدیریت | د څانګي اړوند د عـلـمـي او اداري چارو سمبالښت | |
| .30 | په علمي برخه کې د څانګې کیفیت ته رشد ورکول | د علمي برنـامو مهـالنی بیا کتنې کلنی راپور ترتیـب او پورتنې مرجع ته استول | یو کال | حمل ۱ | حوت ۲۹ | | | د څانګې آمر | | د څـا نګي اړونـد کارونو کیفیت ته وده ورکول | |
| .31 | د اداری اجراتو د اسنادو ساتنې په موخه او د تضـــمین کیفیت د معیار تکمیلول | د ۱۴۰۱ ه ش کال د پای ته رســیدو نه وروســته د اداری اجرآتو یو شمیر مهم اسناد او کتابونه په مکتوبی شــکل د پوهنځې محترم ریاســت ته لیږل شــوی ،د څانګې اړوند کتابونه نوی کول | یو کال | حمل ۱ | حوت ۲۹ | | | د څانګې آمر | اداري معاونیت | د تضــمین کیفیت د معیـارو نو پوره کـول او د داري چارو ترسره کول | |

## د بودیجې ټاکنه

| لومړی موخه: په ځانګه کې د څېړنیز مرکز ایجاد او دعلمي څېړنو وده او انکشاف | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | کال 1405 | کال 1406 | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| په ځانګه کې د څېړنیز مرکز ایجاد | 100000 | | | | | 100000 |
| په ملي کچه دعلمي څېړنو خپرول | 20000 | 20000 | 20000 | 20000 | 20000 | 100000 |
| په سمیه ایزه او نړیواله کچه د علمي څېړنو خپرول | 30000 | 30000 | 30000 | 30000 | 30000 | 150000 |
| مجموعه | 150000 | 50000 | 50000 | 50000 | 50000 | 350000 |

| دویمه موخه: د علمي سفرونو، ورکشاپونو او سیمینارونو برابرول | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | 1405 | کال 1406 | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| په ملي کچه د بیلابیلو علمي سفرونو برابرول | 40000 | 40000 | 40000 | 40000 | 40000 | 200000 |
| ملي او بین المللي کچه د علمي سیمینارونو او ورکشاپونو په لاره اچول | 40000 | 50000 | 60000 | 70000 | 80000 | 3000000 |
| مجموعه | 80000 | 90000 | 100000 | 110000 | 120000 | 500000 |

| دریمه موخه: د ځانګړې د عملي زده کړو د پرمختیا لپاره د مختلفو تطبیقي مرکزونو ایجادول | 1402 کال | 1403 کال | 1404 کال | 1405 | 1406 کال | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د سیاسي او دیپلوماتیکو مسایلو د تطبیقاتو مرکز ایجاد | 150000 | | | | | 150000 |
| مجموعه | 150000 | | | | | 150000 |

| څلورمه موخه: په کتابتون کې د د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو د ځانګړې د کتابونو غني کول | 1402 کال | 1403 کال | 1404 کال | 1405 کال | 1406 کال | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د فزیکي کتابونو غني کول | 20000 | 10000 | 10000 | 10000 | 10000 | 60000 |
| د انلاین کتابونو غني کول | 20000 | 10000 | 10000 | 10000 | 10000 | 60000 |
| مجموعه | 60000 | 20000 | 20000 | 20000 | 20000 | 120000 |

| پنځمه موخه: په ملي سطحه د هوکړو لیکونو رامنځته کول | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | کال 1405 | کال 1406 | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د سیاسي او دیپلوماتیک نهادونو سره هوکړه لیکونه | **10000** | 10000 | 10000 | **10000** | **10000** | **50000** |
| د علمي نهادونو سره هوکړه لیکونه | **10000** | 10000 | 10000 | **10000** | **10000** | **50000** |
| **مجموعه** | **20000** | **20000** | **20000** | **20000** | **20000** | **100000** |

| شپږمه موخه : د تحصیلي نصاب دوامداره بیا کتنه او د وخت او ضرورت په اساس ترتیبول | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | کال 1405 | کال 1406 | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **د تحصیلي ترتیبول** | **40000** | | | | | **40000** |
| **د تحصیلي دوامداره ارزونه** | | 8000 | 8000 | 8000 | **8000** | **32000** |
| **مجموعه** | **40000** | 8000 | 8000 | 8000 | 8000 | **72000** |

| اوومه موخه: د محصلینو لپاره د سکالرشیپونو برابرول | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | کال 1405 | کال 1406 | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **بشپړ سکالرشیپونه** | 100000 | 100000 | 100000 | 100000 | 100000 | **500000** |
| **نیمه سکالرشیپونه** | 50000 | 50000 | 50000 | 50000 | 50000 | **250000** |
| **مجموعه** | **150000** | **150000** | **150000** | **150000** | **150000** | **750000** |

| اتمه موخه: د څانګې د فارغو محصلینو سره د روابطو منظم میکانیزم رامنځته کول | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | کال 1405 | کال 1406 | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **د څانګې د فارغو محصلینو سره د روابطو منظم میکانیزم رامنځته کول** | **5000** | **5000** | **5000** | **5000** | **5000** | **25000** |
| **مجموعه** | **5000** | **5000** | **5000** | **5000** | **5000** | **25000** |

| نهمه موخه: په ټولنه کې ونډه اخیستل | 1402 کال | 1403 کال | 1404 کال | 1405 کال | 1406 کال | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د اړینو موضوعاتو په اړه عامه پوهاي | 5000 | 5000 | 5000 | 5000 | 5000 | 25000 |
| رقابتي سیالۍ ترسره کول | 10000 | 10000 | 10000 | 10000 | 10000 | 50000 |
| مجموعه | 15000 | 15000 | 15000 | 15000 | 15000 | 75 |

| مجموعي بودیجه | 1402کال | 1403کال | 1404کال | 1405کال | 1406کال | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | 820000 | 408000 | 428000 | 428000 | 428000 | 2512000 |

## د ستراتېژۍ اجرا

د ستراتیژۍ د تطبیق څخه د ښې څارنې په موخه د پوهنځي (سراتېژیک پلان د تطبیق څخه د څارنې او ارزونې کمیسیون) لخوا د څارنې یو میکانیزم ایجادیږي.

د ستراتیژۍ د تطبیق لپاره موږ دري لویې ټاکنې لرو:

1. د تطبیق لپاره بستر سازي او زمینه سازي.
   a. د څانګې په ساختار او تشکیلاتو کې تغیر.
   b. په مدیریتي سیستمونو او شاخصونو کې بدلون او پراختیا.
   c. د څانګې د رسمیت پیشنهادي طرحې پراختیا.
   d. د څانګې د رهبرۍ او مدیریتي سبک په تغیر کې پراختیا.
2. د څانګې د ستراتیژۍ عملیاتي کول:
   a. په پنځو کلونو کې د ستراتیژۍ د تطبیق لپاره د نقشې جوړول.
   b. د بودیجې تدوین او د اړونده منابعو تخصیص.
3. د ضرورت په وخت کې د پوهنځي په داخلي پالیسیو او سیاستونو کې تغیر د کمیت د ډېروالي او د کیفیت د بهتروالي په موخه.

## د استراتېژۍ ارزيابي

د سراتېژیک پلان د څارنې او ارزونې کمیسیون له خوا د ستراتیژیو ارزیابي لپاره یو میکانیزم جوړیږي ، چې نوموړي ارزونه په څلورو لاندې پړاوونو کې ترسره کېږي.

1. د اندازه ګیرۍ سنجول او د ستراتیژۍ د ارزونې مبنا رامنځته کول.
2. د انساني عواملو د کړنو سنجول.
3. د انساني قوې پر کړنو باندې تجدید او بیا کتنه.
4. په کال کې یو ځل اصلاحي اقدماتو ترسره کول.

په پورته ډول د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ستراتیژیک پلان د حقوقي علومو څانګې شورا له خوا (۱۴۰۲/ / ) نیټې ( ) نمبر پروتوکول کې تصؤیب شوی.

په پورته ډول د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ستراتیژیک پلان د پوهنځي علمي شورى (۱۴۰۲/ / ) نیټې ( ) نمبر پروتوکول کې تصؤیب شوی.